داکتر محمد ایمل
سدنی - آسترلیا

۲۰۱۹/۰۹/۰۹

# د عـــاشـــورا حقیقت

لاإله إلا الله محمد رسول الله

د اسلامي تاريخ له لحاظه دکال لومړی مياشتي ته "محرم"ويل کيږي. ددغي مياشتي يادونه الله تعالی د نورو مياشتو په لړ کي دتوبي په سورة کي داسي کړي ده :

إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ (سورة التوبة :۳۶) "حقيقت دادی چي دمياشتو شمېر له هم هغي ورځي نه چي الله تعالی اسمانونه اوځمکه پيداکړي وه، دالله په ليکنه کي هم هغه دوولس دي اوله هغو څخه څلور مياشتي حرامي دي ".

له دغو څلورو حرامو مياشتوڅخه دريمه د محرم مياشت ده . دقرآن کريم دهمدی آيت تفسير له رسول الله (ص) څخه داسي رانقل شوی دی :"کال دوولس مياشتي دی ،څلور له هغو څخه حرامي دي،دري يو له بل وروسته دي،ذوالقعدة، ذوالحجة، ،محرم اوڅلورمه د رجب مياشت ده ".او کماقال عليه السلام .

ددغي تولی مياشتي روژې نيول بي شمېره ثوابونه لري او درمضان له مياشتي وروسته ددغي مياشتي د روژو ثوابونه زيات دي لکه څنګه چي ابو هريرة رضی الله تعالی عنه روايت کوي چي رسول الله (ص) وفرمايل : "دروژي له مياشتي وروسته دالله ج په دربار کی محرم دمياشتي روژی غوره دي ."(رواه مسلم ۱۹۸۲) په حديث شريف کي ديادي مياشتي د زيات فضيلت ا و تعظيم له امله دهغي نسبت دالله تعالی لورته شوی دی او د"الله مياشت محرم"ياده شوی ده. په همدی مبارکه مياشت کي الله تعالی موسی عليه السلام اوبني اسرائيلو ته له فرعون څخه نجات وربه برخه کړ اوهغه يي غرق کړ.

په دغه مياشت کي يوه ورځ ډېره مشهوره ده چي دعاشوراء ورځ ورته ويل کيږي ، او ددی مياشتي لسمه نيټه ده. عاشوراء دعربي لفظ له عاشر څخه اخيستل شوی دی اوعاشر لسمي نيټي ته ويل کی يي نو دعاشر له مناسبته دغه ورځ هم د عاشوراء په نامه ياديږي. همدغه به ددنيا اخري ورځ وي اوپه دغه ورځ به قيامت واقع شي د ځينو عالمانو په نظر خو والله علم. دعاشوراء په ورځ يوه بله ستره فاجعه درسول الله (ص) دلمسي حضرت حسين بن علی (رض) شهادت هم واقع شوی دی خو تر دی غمجني واقعي ډير بنه او د خير واقعات هم شوي علامه عينی په شرح د بخاری ۱۱/ ۱۶۷ کي ليکي چي الله رب العلمين پدغه ورځ نور پيغمبرانو ته عزتونه ورکړي دي لکه:

۱ -نوح (ع) ته د غرقـيدلو نه خلاصی

۲ -:موسی (ع) او بنی اسرائيلو ته د غرقيدلو څخه نجات له او فرعون څخه خلاصی

۳ -:يونس علی(ع) ته خلاصی د کب د خيټي او د درياب څخه

۴ -:د ادم (ع) توبه پکي قبوله شوي

۵ -:يوسف (ع) الله ج د کوهی څخه د کاروانيانو په وسيله راپورته کړ

۶ -:د عيسی (ع) پيدابښت او اسمان ته پورته کيدل پکي شويدي

۷ -:ابراهيم (ع) پدغه ورځ پيداشوي

۸ -:په داؤد (ع) توبه او رحمت پکي راغلي دي

۹ -:یعقوب (ع) ته د سترګو نظر پوره شو

۱۰ -:محمد (ص) ته بدغه ورځ د معافی اعلان وشو بیا عینی لیکي په ۱۱/ ۱۶۷ کي چي ادریس علیه السلام پدغه ورځ اسمان ته پورته شویدي

۱۲ -:د ایوب علیه السلام مرض الله (ج) لري کړو

۱۳ -:سلیمان علیه السلام ته ئي بادشاهي ورکړیده.

دعاشوراء سره په عامه توګه په عربي کتابونو کي تاسوعاء هم یادیږي چي له عاشوراء څخه وړاندي ورځي او دمحرم دمیاشتي نهمي نیټي ته ویل کیږي . په سابقه امتونو کي دعاشورآء د ورځي روژه فرض وه ،خو پر دي امت چي کله الله تعالی د رمضان دمیاشتي روژي فرض کړي نو دعاشوراء دروژي فرضیت ساقط شو. دعاشوراء د ورځي روژه زیات ثواب لري اوپه احادیثو کي یي زیات فضیلت راغلی دی. لکه څنګه چي رسول الله (ص) فرمایي : زه له الله تعالی څخه داهیله لرم چي دعاشوراء د ورځي روژه به دسابقه کال د ټولو ګناهونو دبخښني سبب وګرځي .(رواه مسلم ۱۹۷۶) دا دالله تعالی له فضل او مهربانی پرته هیڅ نشي بلل کېدای چي صرف د یوې ورځي په روژه نیولو سره دي ټول کال ګناهونه را وبخښي .

ددومره ستر فضیلت ترڅنګ ددغي ورځي روژه نیول سنت هم ده او رسول الله (ص) نیولي ده . لکه په صحیحینو کي له حضرت معاویة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چي رسول الله علیه وسلم وفرمایل :دا د عاشوراء ورځ ده او روژه یي پرتاسي فرض کړل شوي نه ده ، زه دا روژه نیسم،له تاسي څخه چي دچاخوښه وي ودې نیسي او دچاچي خوښه وي افطار دي وکړي .” داچي رسول الله (ص) دا روژه نیولې ده نوځکه سنت ده .

ددغي ورځي روژه باید څنګه ونیول شي ،یعني یوازي باید ونیول شي اوکه وړاندي یا وروسته بله روژه هم ورسره اضافه کړل شي،په اړه یي دعبدالله ابن عباس رضی الله تعالی عنه روایت را اخلو،هغه فرمایي کله چي رسول الله (ص) دعاشوراء د ورځي روژه ونیول او دهغي دنیولو امر یي وکړ،نوصحابه کرامو ورته وویل : ای د الله رسوله ! دا هغه ورځ ده چي یهود او نصاری یي تعظیم کوي او درنه یي لمانځي نو رسول الله (ص) وفرمایل : راتلونکی کال به ان شاءالله دنهم روژه هم ورسره ونیسو “. ابن عباس رضی الله تعالی فرمایي راتلونکی کال دغه ورځ رانغله چي رسول الله (ص) له نړۍ څخه رحلت وکړ .(رواه مسلم ۱۹۱۶) علماء لیکي چي یهودو به هم په دغه ورځ روژه نیول ،نویوازي ددغي ورځي د روژې په نیولو کي دیهودو سره مشابهت راځي ،ځکه علماء فرمایی چي دنهم او لسم دواړو روژه نیول مستحب دي له دې امله چي رسول الله (ص) دلسم روژه ونیول او دنهم د روژې نیت یي وکړ . همدې ته په بل حدیث کي داسي اشاره شوې ده کوم چي امام احمد له عبدالله بن عباس رضی الله تعالی څخه روایت کوې چي هغه وفرمایل : د یهودو مخالفت وکړئ ، له عاشورآء څخه یوه ورځ وړاندي یا وروسته روژه ونیسئ .

شیخ ابن عثیمین (رح) فرمایي : علماء کرامو دعاشوراء د روژو درې حالتونه ذکر کړي دي :

لومړی :له عاشورآء څخه یوه ورځ وړاندي او یا وروسته روژه نیول .

دوهم :صرف دعاشوراء روژه نیول .

دریم :له عاشورآء څخه وړ اندي او وروسته ددواړو ورځو روژه ورسره نیول . بهتره داده چي یوه ورځ وړاندي او یوه ورځ وروسته روژه ورسره ونیول شي ،بیا غوره صورت دادی چي دنهمي او لسمي ورځي روژه ونیول شي . دریم غوره صورت دادی چي دلسمي او یوولسمي نیټي روژه ونیول شي کنه نو بیا دي دلسمي نېټي روژه ونیسي ا ویوازي ددغي ورځي د روژې په نیولو کي کوم ډول کراهت نشته .

ځیني خلګ پردي نظریه وي چي په دغه ورځ پرخپلو اولادونو پراخي راوستل ددي لامل ګرځي چي ټول کال دي ورباندي پراخي وي ، داهیڅ حقیقت نه لري اونه یي په کوم حدیث او یا اثر کي ثبوت شته . شیخ الاسلام ابن تیمیه (رح) فرمایي : د عاشوراء په ورځ پر اهل اوعیال پراخي راوستل او دا اعتقاد لرل چي څوک چي داسي وکړي ،الله تعالی به ټول کال پراخي ورپه برخه کړي اوله دې حدیث څخه استدلال کوي :پرخپلو اولادونو په عاشوراء کي پراخي راولئ،څوک چي پرخپلو اولادونو په دغه ورځ پراخي راولي ،الله تعالی به ټول کال پرهغه پراخي راولي . دا یو اوږد موضوعي حدیث دی اوپر رسول الله (ص) دروغ تړل شوي دي . علامه سیوطي (رح) فرمایي چي د دې حدیث هیڅ ثبوت نشته.

الله ج موږ ته توفیق راکړی چی پدي مبارک میاشتي کی روژي ونیسو اویا هم لاقل په نهم او لسم د محرم.

*** *** ***

د عاشورا حقیقت
moh_emel_de_aashooraa_haqiqat.pdf